# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

شنبه | دذولحجة الحرم ۲۲ - ۱٤٤٥ل س/د چنګاش ۹ - ۱٤۰۳ل ل/ د جون ۲۹ - ۲۰۲٤ز/دریم کال / ۱۰۴ ګڼه/ ٤ مخیزه




**د حدیث شریف ژباړه**

**نبي علیه السلام فرمایي:** بېشکه په تاسو کې ماته تر ټولو زیات محبوب او د قیامت په ورځ ماته ترټولو نږدې هغه خلک دي، چې په تاسو کې د ښو اخلاقو څښتنان وي. له نبي علیه الصلاة والسلام څخه پوښتنه وسوه، چې کوم عمل افضل دئ؟ وئې ویل: ښه عادت بیا پوښتنه وسوه، چې جنت ته د داخلېدو ترټولو لوی سبب کوم عمل دئ؟ وئې ویل: د الله تعالی خوف او ښه عادت.

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سر مقاله

### تاثیرات کاهش مصارف در ثبات بودجه ملی

بودجه عبارت از پیشبینی و برآورد درآمد و هزینه یک زمان معیین و یا یک سال یک کشور، سازمانها و یا خانواده را معلوم میکند. این بودجه میتواند برای اشخاص، سازمانها، گروه ها و یا افراد جامعه کشور ها توسط دولت مشخص و تصویب گردد. بودجه کشور همان برنامه های مالی حکومت برای یک سال مشخص میباشد، در بودجه دولت درآمدها، منابع تامین و هزینه کامل سنجش میشود. در ترتیب بودجه پلانگذاری مالی به عنوان ابزار اساسی نهایت اهمیت خاصی داشته که این امر باعث میشود همه ساله تلاش گردد تا روند پلانگذاری مالی بهبود یابد. با در نظر داشت شرایط فعلی کشور و اوضاع اقتصادی باید تمامی ادارات دولتی در ثبات بودجه ملی نقش بارز خویش را ادا نمایند. تمامی ادارات دولتی در مصرف بودجه کوشا بوده و از مصرف غیر ضروری جلوگیری نمایند، چون کاهش در مصرف بودجه به معنای کاهش هزینهها و مصارف دولت است که این امر میتواند تأثیرات متنوعی بر ثبات بودجه داشته باشد.
کاهش در مصرف بودجه علاوه بر کاهش هزینه های دولت، منجر بر کاهش خسارات عمومی و بهبود ثبات مالی دولت، پیشبرد امور شده و به افزایش پروژهای انکشافی در کشور کمك می کند.
کاهش هزینه های مصارفات دولت می‌تواند منجر به کاهش قروض دولت شود. اگر دولت بتواند هزینه ها را کاهش دهد و در عین حال درآمدها را حفظ کند، می‌تواند به تعادل بودجه دست یابد. این امر می‌تواند بهبود ثبات مالی دولت را به همراه داشته باشد و برای کاهش خطرات مالی و اقتصادی مهم باشد.
کاهش مصرف بودجه می‌تواند به کاهش وابستگی دولت به امانت‌ها و مقروضیت های خارجی منجر شود. اگر دولت نیاز کمتری به امانت‌ها داشته باشد، در معرض خطرات ارزی قرار نخواهد گرفت و قدرت تصمیم گیری خود را در امور مالی و اقتصادی افزایش خواهد داد.
به طور کلی، تأثیر کاهش در مصرف بودجه بر ثبات بودجه ملی بستگی به شرایط و عوامل مختلفی دارد کاهش در مصارف بودجه ملی می‌تواند تأثیرات متعددی بر ثبات بودجه داشته باشد.
در حال حاضر وزارت مالیه در ترتیب بودجه ملی تلاش ورزیده است تا مصارفات غیر ضروری جلوگیری نماید تا باشد امور بودجه به شکل موثری به پیش رود، و در تمویل پروژه های انکشافی پیشرفت به عمل آید.
در شرایط کنونی بودجه ملی از سوی حکومت تمویل میگردد بناءً وزارت مالیه در تلاش است تا ثبات بودجه را حفظ و مصارفات را مدیریت نماید.

**با احترام**

**اداره**

## د مالیې وزیر د افغانستان د نفت او ګازو سرتاسري اتحادیې له مسئولینو سره وکتل

د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند د هیواد د سوداګرۍ او پانګوني خوني له سرپرست محمد یونس مهمند او د افغانستان د نفت او ګازو شرکتونو د سرتاسري اتحادیې له رئیس سید کریم هاشمي سره وکتل.
په دغه کتنه کې، د نفت او ګازو د سرتاسري اتحادیې رئیس له مالیې وزارت څخه مننه وکړه، چې دوی ته ئې د ګمرکونو په سیستم کې اسانتیاوې برابرې کړې دي.
ښاغلي هاشمي خوښي څرګنده کړه، چې له دې وروسته د نورم او سټنډرډ اداري د نفت او ګازو اړونده برخه د مالیې وزارت تر اثر لاندې فعالیت کوي، چې ورسره به د نفت او ګازو شرکتونو ته په اړونده برخه کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته سي.
د مالیې وزیر وویل، چې په هیواد کې ټول سوداګر او د نفت او ګازو شرکتونو مسئولین هر وخت په ډاډه زړه کولای سي خپلې ستونزې او غوښتنې له مالیې وزارت سره شریکې کړي او دغه وزارت هم تل هڅه کوي، چې دوی ته په اړوندو برخو کې لا ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي.




## د عوایدو لوی ریاست او کورنیو چارو وزارت مسئولینو پر یو لړ مسایلو بحث وکړ

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصور الحق ذاکر او د عوایدو لوی ریاست د غیر مالیاتي عوایدو رئیس امان الله امین د کورنیو چارو وزارت له تامیناتي معین مولوي عبدالله مختار، د پاسپورټ ریاست لوی رئیس عبدالکریم حسیب، د کورنیو چارو وزارت د تعمیراتو عمومي رئیس شریف الله الهام او د اقتصادي جرایمو معاون مولوي سعد الله سره پر یولړ مسایلو بحث او د نظرونو تبادله وکړه.
په دغه ناسته کې دواړو لوریو د کورنیو چارو وزارت د عوایدي ریاستونو (پاسپورټ، ټرافیکو، ډیاګ او نورو) د څارني د بهیر په تړاو بحث او خبري وکړې او پرېکړه ئې وکړه، چې دواړه وزارتونه به په رسمي ډول خپل تخنیکي ټیمونه معرفي کوي؛ ترڅو د کورنیو چارو وزارت د عوایدي برخو څارنه وکړي. دوی زیاته کړه، چې یاد ټیمونه به خپل هر اړخیز راپور په کتبي ډول د دواړو وزارتونو له رهبرۍ سره شریکوي؛ ترڅو د عوایدو په برخو کې ستونزي تشخیص او د غوره مدیریت او شفافیت رامنځته کولو لپاره اړین اقدامات ترسره سي. د پاسپورټ او ډیاګ ریاستونه دي د یوه ټولیز پروپوزل جوړولو په موخه خپلي تجهیزاتي اړتیاوې تثبیت او د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د غیرمالیاتي عوایدو له ریاست سره د پروپوزل په شکل شریکي کړي.
د یادوني وړ ده، چې د غونډې په ورستیو کې د دواړو وزارتونو په لاښه همږغی هم ټینګار وسو.

## په کابل کي ۵۰ جریبه ځمکه له غصب څخه را وګرځول سوه

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست له لوري د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالی د نساجي فابریکې ته مخامخ د (۳۲۵) جریبه غصب سوې ځمکي څخه پنځوس جریبه ئې بیرته را وګرځول سوه او د پاتي ځمکي پر بیرته راګرځولو کار روان دئ.
د مالیې وزارت اړوند یاده ځمکه، چې له کلونو راهیسي د یو شمېر زورواکو له لوري غصب سوې وه، پکښې غیر قانوني کورونه جوړ سوي ول، چې د دولتي املاکو لوی ریاست له لوري یاد کورونه ړنګ او ځمکه د غاصبینو له واکه ووتله.
د دغې ځمکي په غصبېدو سربېره، په یاده سیمه کې د یو شمېر فرصت طلبه اشخاصو له لوري غیر قانوني کړني هم ترسره کېدلې، چې د سیمي اوسېدونکي ئې اندېښمن کړي ول. د یادو کورونو له ړنګېدو سره په سیمه کې د هر ډول فساد مخه ونیول سوه او د خلکو له پاره بشپړ امنیت رامنځته سو.



د یادوني وړ ده، چې پر یاده ځمکه باندي به ټولګټې پروژې پلي سي، چې ورسره به د سیمي د ابادۍ، ښکلا او پراختیا ترڅنګ، یو شمېر هیوادوالو ته د کار کولو زمینه هم برابره سي.



د افغانستان لاس بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه د روان کال تر پایه تمدید سوه

م ۲




د ۱۱ ولایتي مستوفیتونو مالي او حسابي کارکوونکو ته د روزنیز پروګرام درېیمه دوره جوړه سوه

م ۲




د ګمرکونو لوی ریاست په شپږمه اداري ناسته کې د سوداګرۍ پر لا پراختیا خبري وسوې

م ۲



د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو د ټولګټو وزارت له تخنیکي مرستیال سره وکتل

م ۲




مدیریت زمان برای کارمندان و رئیسان

م ۳




لوړ پوړی پلاوی ترکمنستان ته روان سو

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه



# د افغانستان لاس بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه د روان کال تر پایه تمدید سوه

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د پرېکړي او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم له مخې د افغانستان لاس بې اسناده (یو کیلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه د (۱۴۰۳هـ.ل) کال تر پایه تمدید سوه.

د افغانستان لاس یو کیلي موټرونو د ثبت او محصول په کړنلاره کي د خلکو اقتصادي حالات په پام کي نیول سوي او په داسي لارو چارو غور سوی، چي د بې اسناده موټرونو مالکین وکولای سي خپلو موټرونو ته په اسانۍ اسناد واخلي.

د بې اسناده موټرونو په محصول کي په لویه سلنه تخفیف ورکول سوی، چي په لاندي ډول دئ:

له (۱۹۹۰) څخه تر (۲۰۰۰) ماډل موټرونو ته (۷۰ سلنه) تخفیف.

له (۲۰۰۱) څخه تر (۲۰۰۹) ماډل موټرونو ته (۶۰ سلنه) تخفیف.

له (۲۰۱۰) څخه تر (۲۰۲۱) ماډل موټرونو ته (۵۰ سلنه) تخفیف.

او د یوې کیلي زغره والو موټرونو له پاره (۵۰ سلنه) تخفیف په پام کي نیول سوی.

د افغانستان لاس بې اسناده (یو کیلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه به ډېر ژر د (کابل، هرات، بلخ، ننګرهار، کندهار، کندوز او خوست/ پکتیا) په ګمرکونو کي پیل سي، چي د چارو د ښه پرمختګ



په موخه ورته واحد کاري مرکزونه جوړ سوي دي او ټول پړاوونه به ئې تر یوه چتر لاندي ترسره کېږي.

د مالیې وزارت د یادو موټرونو له مالکینو څخه غوښتنه کوي، چي له دې فرصت څخه ګټه واخلي او خپلو موټرونو ته پر ټاکلي وخت قانوني سندونه جوړ کړي.

# د ۱۱ ولایتي مستوفیتونو مالي او حسابي کارکوونکو ته د روزنیز پروګرام دربیمه دوره جوړه سوه

د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست د بشري سرچینو ریاست په همکارۍ د غزني، زابل، روزګان، غور، فاریاب، بادغیس، هرات، فراه، کندهار، ننګرهار او نیمروز مستوفیتونو مالي او حسابي کارکوونکو له پاره د روزنیز پروګرام دربیمه دوره د یو لړ مراسمو په ترڅ کي د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د غونډو په تالار کي جوړه سوه.

په دې مراسمو کي اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د خزاینو لوی رئیس نصرت الله محمود، د خزاینو لوی ریاست د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر او د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احدي ګډون کړی وو.

اداري معین مولوي دوست محمد مخلص د دغه روزنیز پروګرام په پرانیستي وینا کي وویل، چي د هر مسلک پرمخ وړل علم او پوهاوي ته اړتیا لري. تاسي هم د مستوفیت د مالي او حسابي مسئولینو په توګه، د خپلو چارو د ښه پرمخ وړلو په موخه مالي او حسابي چارو کي علم او پوهاوي ته اړتیا لرئ، چي دغه اړتیا د ورته روزنیزو پروګرامونو له لاري پوره کولای سئ، نو له دې پروګرامونو څخه په استفادې سره خپل مهارتونه او پوهاوی لوړ او خلکو ته د غوره خدمت وړاندي کولو او د هیواد مالي سیستم د پیاوړتیا لپاره نه ستړي کېدونکې هلي ځلي وکړئ.

د خزاینو لوی رئیس نصرت الله محمود په خپلو خبرو کي وویل، چي د دغو روزنیزو پروګرامونو له جوړولو څخه موخه د لګښتونو کنټرول او مدیریت دئ؛ ځکه، چي د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو را وروسته ملي بودیجه له کورنیو سرچینو څخه برابرېږي او که چیرته لګښتونه مدیریت نه سي کېدای سي له مالي محدودیت سره مخ سو. له دغه پروګرام څخه په ګټې اخیستني د وزارت قوانین، طرزالعملونه او متحدالمالونه حفظ کړئ او د هغو پر بنسټ دقیق اجراآت ترسره کړئ؛ ترڅو شفافیت تامین، له بېځایه لګښتونو او د بودیجې له کسر څخه مخنیوی وکړو.

د یادوني وړ ده، چي دغه روزنیز پروګرام به (۱۵) ورځي دوام وکړي، چي په هغه کي به ګډونوالو ته د مالي چارو او عامه لګښتونو قوانین، د ملي بودیجې د اجراء اصولنامه، د مالیې وزارت طرزالعملونه، مقررې او متحدالمالونه تشریح سي.




# د ګمرکونو لوی ریاست په شپږمه اداري ناسته کي د سوداګرۍ پر لا پراختیا خبري وسوې

د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال شپږمه اداري ناسته وسوه، چي د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو ګډون پکښې کړی وو.

په یاده ناسته کي د سوداګرۍ د لا پراختیا په موخه په ګمرکونو کي د لا ډېرو اسانتیاوو په رامنځته کولو، د هیواد په ګمرکونو کي د صادراتي، وارداتي او ټرانزیټي توکو په برخه کي د سوداګرو پر ستونزو




او حل لارو، د ګمرکونو لوی ریاست د ورځنیو چارو پر لا ښه والي او یو شمېر نورو ورته موضوعاتو په تړاو بحث او خبري وسوې او ترڅنګ ئې د ځینو مهمو موضوعاتو په تړاو پرېکړي هم واورول سوې.

د یادوني وړ ده، چي مالیې وزارت د هیواد په ګمرکونو کي د کورنیو او بهرنیو سوداګرو له پاره د پام وړ اسانتیاوي رامنځته کړي دي او دغه وزارت د سوداګرۍ د لا پراختیا په موخه د نورو اړینو اسانتیاوو په رامنځته کولو هم جدي کار کوي.

# د روان کال په لومړۍ ربع کي د تشخیصیه نمبر د مرکزي آمریت لاسته راوړني

د تشخیصیه نمبر(TIN) مرکزي آمریت د هغو حقیقي او حکمي اشخاصو له پاره د تشخیصیه نمبر د ثبت او وېشلو په برخه کي فعالیت کوي، چي له مالیاتي قوانینو سره سم د مالیې د ورکړي تابع ګرځېدلي وي. دغه آمریت د عوایدو لوی ریاست د سیستمونو ریاست تر اثر لاندي فعالیت کوي او د یاد ریاست د رهبرۍ، سالم مدیریت او ځانګړي پاملرني په پایله کي د دې آمریت په کارونو کي اسانتیا، روڼتیا او چټکتیا رامنځته سوې ده. یاد آمریت توانېدلی دئ، چي د (۱۴۰۳هـ ش) کال په لومړۍ ربع کي له ولایتونو څخه غوښتل سوي (۱۱۹۹۷۶) تشخیصیه نمبرونه او له مرکزي دفتر څخه (۱۷۳۲۸) تشخیصیه نمبرونه تائید کړي او (۱۰۱۶) نویو بنسټونو او (۱۱۹۵) هغو بنسټونو ته، چي درج سوو معلوماتو ئې بدلون موندلی او (۷۲) حکمي بنسټونو ته ئې مالیاتي تشخیصیه نمبرونه ورکړي دي. سربېره پر دې (۲۰) حکمي تشخیصیه نمبرونه او له پخواني سیستم څخه (۴۲) انفرادي تشخیصیه نمبرونه په نوي سیستم کي ثبت سوي، همداراز (۶) تنه کسب پرېښودونکي ئې هم په نوي سیستم کي ثبت کړي دي. د دې تر څنګ ئې د تشخیصیه نمبر آمریت باقیداره بنسټونه د مالیاتي وجایبو ادا کولو ته مکلف کړي دي او (۱۷۳۲۸) تشخیصیه نمبرونه ئې په مرکزي دفتر کي ثبت او وېشلي دي.

د یادوني وړ ده، چي د تشخیصیه نمبر مرکزي آمریت د مالیاتي چارو اداري قانون له (۲۸، ۲۹، ۳۰، ۴۲) مادو سره سم په مرکز او ولایتونو کي د ګنو شعبو په لرلو سره د تشخیصیه نمبرد ثبت او وېش خدمتونه په معیاري ډول وړاندي کوي.

# د کابل او د کابل نړیوال هوايي ډګر د ګمرکونو له پاره نوي رئیسان معرفي سول

د مالیې وزارت د مقام په وړاندیز او د ا.ا.ا د ریاست الوزراء لوړ مقام په منظورۍ کار اهل کار ته د سپارلو او د کارکوونکو ترمنځ د تجاربو شریکولو په موخه مولوي علي احمد منیب د کابل ګمرک او محمد داؤد ایوبي د کابل نړیوال هوايي ډګر ګمرک له پاره د نویو رئیسانو په توګه وټاکل سول.

یاد رئیسان پرون د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید له لوري د یادو ګمرکونو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول، چي د کابل نړیوال هوايي ډګر ګمرک د رئیس په پېژند غونډه کي د کابل نړیوال هوايي ډګر د لوی ریاست مرستیال مولوي محمد یاسین ثاقب هم ګډون کړی وو.

د ګمرکونو لوی رئیس د یادو ګمرکونو د دواړو رئیسانو د تر سره کړو کارونو ستاینه او نویو رئیسانو ته ئې د الله (ج) له درباره په اړوندو چارو کي د بریالیتوب هیله وکړه.

نوموړي د کابل او د کابل نړیوال هوايي ډګر د ګمرکونو کارکوونکو ته سپارښتنه وکړه، چي ټولي چاري په پوره صداقت او ایماندارۍ سره تر سره کړي او په ټولو برخو کي له خپلو مسؤلینو څخه اطاعت او له دوی سره پوره همغږي وکړي.

د یادوني وړ ده، چي محمد داؤد ایوبي له دې وړاندي د کابل ګمرک د رئیس او مولوي علي احمد منیب د کابل نړیوال هوايي ډګر د ګمرک رئیس په توګه دندي مخته وړلې.

# د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو د ټولګټو وزارت له تخنیکي مرستیال سره وکتل



د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست مسئولینو د ټولګټو وزارت له تخنیکي مرستیال، مولوي عبدالکریم فاتح سره وکتل او د ټولګټو وزارت د غیر مالیاتي عوایدو پر بهیر او نورو برخو د ښې څارني پر موضوعاتو ئې خبري وکړې.

په دغه کتنه کي د ټولګټو وزارت د عوایدي ریاستونو د (ترازوګانو او ټول پلازا یا حق العبور) د چارو پر ښه څارنه او همدارنګه د دواړو وزارتونو ترمنځ د لا ښې همغږۍ په رامنځته کولو ټینګار وسو او پرېکړه وسوه، چي د دواړو وزارتونو ګډ تخنیکي ټیمونه به، له دې وروسته د ټولګټو وزارت د عوایدي برخو (ترازوګانو او ټول پلازا یا حق العبور) له چارو څخه د هر اړخیزي څارني چاري ترسره کوي.

# د تورخم او حیرتان د ګمرکونو له پاره نوي آمرین معرفي سول

د مالیې وزارت له لوري پر دندو د وړ او متعهدو اشخاصو د ګومارلو، کار اهل کار ته د سپارلو او د چارو د لا ښه پرمختګ له پاره د اشخاصو له کاري تجربو څخه د ښې ګټې اخیستني په موخه، د تورخم او حیرتان ګمرکونو له پاره نوي آمرین پر دندو وګمارل سول.

د ګمرکونو لوی ریاست په وړاندیز او د مالیې وزارت د مقام په منظورۍ، د تورخم ګمرک له پاره نعمت الله همت او د حیرتان ګمرک له پاره مفتي محمد نسیم محمدي د ننګرهار او بلخ ګمرکونو د رئیسانو له لوري اړوندو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول.

دواړو رئیسانو د تورخم او حیرتان ګمرکونو کارکوونکو ته سپارښتنه وکړه، چي له نویو ټاکل سوو آمرینو سره د چارو د لا ښه پرمختګ په موخه پوره همکاري وکړي او په پوره همغږۍ سره اړوند چاري ترسره کړي.

# په کندهار کي غیر قانوني چاکلېټ او انساني درمل نیول سوي دي



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اونۍ د کندهار ولایت په بېلابېلو سیمو کي د (۱۲۰۰۰) کیلو ګرامه چاکلېټو او (۱۷۸۸) کیلو ګرامه انساني درملو د قاچاق مخه نیولې.

یاد قاچاقي توکي په پټه افغانستان ته راوړل کېدل، چي په تړاو ئې نیول سوي تورن کسان او قاچاقي توکي د نورو اجراآتو له پاره د کندهار ولایت ګمرک ته سپارل سوي دي.

د یادوني وړ ده، چي اوس مهال د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي صادر او یا وارد کړي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# مدیریت زمان برای کارمندان و رئیسان

سعید "رزمنده"

مدیریت زمان یک مهارت اساسی است که به افراد کمک می‌کند تا بهترین استفاده ممکن از زمان خود را داشته باشند و به عنوان یک عامل کلیدی در موفقیت شخصی و حرفه‌ای شناخته می‌شود. در این مقاله، به بررسی اهمیت مدیریت زمان، روش‌های موثر برای بهبود مدیریت زمان و نکات کلیدی برای موفقیت در این زمینه می پردازیم نخست به سوالات ذیل باید پاسخ داد:

۱- چند وقت شده که شما خواسته باشید در طول روز کاری کنید اما نشده باشد؟

۲- چند وقت شده که شما کاری را شروع کرده اید اما نتوانسته اید تکمیلش کنید؟

۳- آیا به زمان های که روزانه صرف کارها می کنید تا به حال فکر کرده اید؟

٤- آیا از نحوه پردازش و استفاده این اوقات راضی هستید؟

۵- و آیا فکر کرده اید در روز ماه و سال چقدر اوقات خود را هدر می دهید؟

در این مقاله بصورت جدی ما این مباحث را نظر به کتاب قانون ۵ ثانیه مل رابینز آرائه خواهیم کرد. در این کتاب رابینز تجربه خود را که یک شب اعلان تجاری را دیده بود بیان می کند وی می گوید یک شب در یک رسانه آگهی پرتاب یک موشک را دیده بود که از پنج تا یک شمارش کرده و موشک شلیک شد این شمارش وی را به وجد آورد و از آن پس از این قانون در زنده گی استفاده می کرد اما در کل چرا قانون ۵ ثانیه مهم است خوب برای درک بهتر سوالات ذیل را در نظر می گیریم:

۱- آیا تا به حال در زمان خشم نفس عمیق کشیده و چند ثانیه با خود مکث کرده اید؟

۲- و آیا زمان پریدن از بلندی استخر حوض با خود شمارش کرده اید و پریده اید؟

اگر شما این کارها را کرده باشید شما می بینید این حرکات باعث آرامش و روحیه دادن به شما می شود قوانین مختلفی برای کنترل زمان وجود دارد و کتاب های زیادی در این بخش نوشته شده اند که بهترین های آن نظر به تجربه شخصی من قانون ۵ ثانیه و قانون هشتاد بیست است که در این مقاله به آن می پردازیم.




**اهمیت مدیریت زمان:**

مدیریت زمان نقش بسیار مهمی در زندگی افراد ایفا می‌کند. با مدیریت صحیح زمان، افراد قادر خواهند بود به بهترین شکل ممکن وظایف و کارهای خود را انجام دهند و به دستاوردهای بزرگ‌تری دست پیدا کنند. همچنین، مدیریت زمان به افراد کمک می‌کند تا استرس و فشار روزمره را کاهش دهند و احساس کنترل بیشتری بر زندگی خود داشته باشند.

**روش‌های موثر برای بهبود مدیریت زمان:**

تعیین اولویت‌ها: اولین گام در مدیریت زمان، تعیین اولویت‌های کارها و وظایف است. افراد باید وظایف خود را بر اساس اهمیت و فوریت آن مرتب کنند شما می توانید در این بخش یک چک لیست از کارهای مهم برای خود ایجاد کنید که روزانه هفته وار و ماهانه آن را می خواهید انجام دهید و در آخر روز ماه و هفته باید چک لیست خود را چک کرده و ببینید کدام بخش ها را انجام داده اید.

**برنامه‌ریزی:** برنامه‌ریزی موثر از جمله عوامل کلیدی در موفقیت در مدیریت زمان است. افراد باید برنامه‌های روزانه، هفته وار یا حتی ماهانه خود را تعیین کنند و به آن عمل کنند برنامه ریزی درست و ترتیب کارها می تواند جلوی خسته گی شما را در طول کارها بگیرید این موضوع همیشه برای ما و شما پیش آمده که از کاری خسته شده ایم ایا فکر کرده اید چرا؟ دلیل آن بدون برنامه بودن شما است به گونه مثال اگر شما می خواهید به کلپ ورزشی بروید و زمان درستی برای رفتن به آن تعیین نکرده اید شما در این بخش ناکام هستید یک کار منظم همیشه گی بهتر است از یک کار سخت بدون برنامه شاید این موضوع را در بعضی از مکان ها خوانده باشید که زیرک کار کنید نه سخت!

پروکرستیناسیون: تعویق یکی از بدترین عادات ما و شما است که در این بخش افراد کار خود را به امروز و فردا می اندازند شاید این عادت همیشه گی ما است که می گویم فردا این کار را می کنم یا عادت افراد چاق همیشه اینست که می گویند شنبه به کلپ می روم و اگر از خود آنها بپرسید می گویند سالهاست این شنبه ما نمی رسد!

به قول مولانا

صوفی عین الوقت باشد ای رفیق
نیست فردا گفتن از شرط طریق

**قوانین مدیریت زمان:**

قانون ۵ ثانیه:

روی کارهای خود تمرکز کنید و ۵ ثانیه با خود از پنج به یک بشمارید و نفس عمیق بکشید با تمرین این کار از نگاه روانشناسی بدن و درون شما آماده گی انجام همان کار را می گیرد و در درون شما انگیزه انجام کار پیدا می شود نویسنده کتاب قانون پنج ثانیه می گوید وی با این قانون در سرد ترین روزها نیز صبح زود از خواب بر می خیست.

**اصل پارتو و مدیریت زمان (قانون ۲۰/۸۰):**

در این اصل شما باید تمام تمرکز خود را در ۲۰ درصد کار که بخش مهم است بپردازید به گونه مثال اگر ۱۰۰کارمند دارید و فقط ۲۰ نفر آنها سخت کار می کنند معاش آنها را افزایش دهید ببینید ۲۰ نفر باقی از این پس چگونه کار می کنند یا اگر آماده گی کانکور می خوانید تمرکز خود را روی ۲۰ درصد سخت و مشترک بیندازید و معجزه را ببینید.

**انجام یک کار در لحظه:**

افرادی که چند کار را در یک لحظه انجام می دهند همیشه ناکام هستند و این تجربه شخصی من است من همیشه چندین کار را برای مدیریت زمان خود انجام می دهم گاهی بیش از ۱۰ کار در عین زمان! اما تجربه کلی من ناکامی یا پیروزی اندک بوده است برای موثریت کارهای خود اگر تعداد کارهایتان کم است و در یک روز و زمان مشخص قابل انجام است در هر لحظه روی یکی تمرکز کنید و آن را انجام دهید. معجزه را ببینید!

**دوری از عوامل حواس پرتی:**

بزرگترین دلیل شکست اکثریت ما شاید بارها برایتان پیش آمده باشد که می خواستید یک کتاب را بخوانید اما مسجی در مبایل تان آمده باشد یا یک چیزی حواس شما را مخشوش کرده باشد اگر می خواهید در یک بخش کامیاب باشید نخست سعی کنید از عواملی که شما را در آن بخش حواس شما مخشوش می کند دوری کنید و آنگاه معجزه را خواهید دید!

**تقسیم کار:**

کارهای خود را تقسیم کنید به گونه مثال شما یک محصل کانکور را در نظر بگیرید وی جمعه امتحان ریاضی، هندسه، فزیک و کیمیا با هم دارد و یک هفته برای درس خواندن اگر شما باشید، چی می کنید هر روز یک کتاب می خوانید یا یک روز نقاط مشترک را؟ این قانون می گوید اگر شما می خواهید در کارهای خود پیروز باشید کارهای همسان را نزدیک به هم انجام دهید مثلا خواندن ریاضی و هندسه و مثلثات با هم بهتر است چون همه مربوط علم حساب می شود آنگاه معجزه را خواهید دید!

نکات کلیدی برای موفقیت در مدیریت زمان:

منظم باشید

کارها را تقسیم کنید

اولیت بندی کنید

و با پشتکار باشید


# اعلانات داوطلبی

**د کابل ښاروالۍ (۴) مي ناحيې اړوند د يو باب دوه منزله تعمير د داوطلبۍ خبرتيا!**

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ (۴) مي ناحيه اړوند په برج شهرارا کي د يو باب دوه پوړيزه ودانۍ چي ٦ خوني، دهليز، تشنابونه، اشپزخانه او حويلۍ چي (۳۴۸) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۱۴٦۱٦) افغانۍ ده. کوردينات(جي. پي. اس نمبر) ۳٤,٥۳۳-٦۹,۱٦۱۲٦٤ ټول هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکيت په کرايه ونيسي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د (سرطان/٥ /۱۴۰۳) څخه د (سرطان/ ۲٥/ ۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مديريت.

د داوطلبۍ مجلس: د (سرطان/۲٦ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار پر ۱۰:۰۰ بجي ترسره کيږي.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد**

بدينوسيله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده ميشود، اينکه وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه طبخ غذا برای برنامه های اموزشی محصلين و استادان اکادمی ملی عوايد و گمرکات دارای نمبر قرارداد ۰۱۷-NCB/NCS/۱٤۰۳/MOF را با شرکت تجارتی ساختمانی و خدمات لوژستيکی عزت الله لوی قندهار دارنده جواز نمبر۲۱۷۷٦ به قيمت مجموعی مبلغ حد اقل ٤،۳۸۰،۰۰۰ (چهار ميليون و سه صدو هشتاد هزار) افغانی و قيمت مجموعی حد اکثر مبلغ ٦،۲۱۹،٦۰۰ ( شش ميليون و دوصدو نزده هزار و ششصد افغانی) عقد قرارداد نمايد. اشخاص حقيقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمينه داشته باشند ميتواند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اين اعلان الی ۷ روز تقويمی طور کتبی توام با دلايل آن به وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نمايد. اين اطلاعيه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، آمريت تدارکات- مشاوريت تدارکات منزل دوم معينيت اداری.

**اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد**

بدينوسيله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده ميشود، اينکه وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، پروژه اعمار سه باب خانه برای گمرک شيخ ابونصر فراهی ولايت فراه دارای تشخيصيه نمبر ۰۱۹-NCB/W/۱٤۰۳/MOF را با شرکت ساختمانی برادران روفی دارنده جواز نمبر ۳۹۸۷٦-D به قيمت مجموعی مبلغ ۱۸,۷۰۱,۱۱۳,٥۰ (هشده ميليون هفتصد يک هزار و يکصد سيزده اعشاريه پنجاه) افغانی عقد قرارداد نمايد. اشخاص حقيقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمينه داشته باشند ميتواند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اين اعلان الی ۷ روز تقويمی طور کتبی توام با دلايل آن به وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نمايد. اين اطلاعيه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، آمريت تدارکات- مشاوريت تدارکات منزل دوم معينيت اداری.

**د داوطلبۍ خبرتيا!**

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي ( د حاضرۍ لوی مديريت د اړتيا وړ ۴۰ پايې د حاضرۍ بريښنايي ډيوايسونو) په پروژه کي، چي تشخصيه نمبر ئې (۰۳٦-NCB/G/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کيږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې تاکلي نېټه: د ( سرطان/ ۱٦ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرگشايي ټاکلي نېټه: د (سرطان/۲٥/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: ديرش زره (۳۰۰۰۰) افغانۍ.

ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

په ځنډ رسيدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# IEA Outlaws Import of Lower 2005 Model Cars into Afghanistan



According to the decision of the cabinet of IEA and the order of H H Amirul Momineen (may Allah almighty protect him), it is strictly forbidden to import lower 2005 model cars to Afghanistan. Based on this order, the cars in RHT (Right-Hand Traffic - the driver usually sits on the left side of the car "LHD: Left-Hand Drive"), whose model is 2000 – 2005 and were imported to Afghanistan before the implementation of this order, and currently stored in a certain amount at the customs, the customs step process will be completed within two-month period (until 24/ Asad/1403 – 14/ August/ 2024). After the order, the ban imposed on the import of lower 2005 model cars is meticulously enforced and no one is allowed to import cars below this model to Afghanistan. Likewise, based on the said order, the third order of the Authority of Prime Ministership that prohibited the export of any kind of commercial vehicles and those vehicles that people have their documents are exceptional from the said order of the Authority of Prime Ministership. Additionally, those cargo vehicles that have entered for transit and have a transit document are allowed for traveling all over the country.

# Minister of Finance Meets with Officials of 'General Union of Oil, Gas of Afghanistan'



Minister of Finance, Alhaj Mulla Muhammad Naser Akhund has met with the Director of 'Chamber of Commerce and Investment' of the country, Muhammad Yunus Momand and the representative of 'General Union of Oil & Gas Corporations of Afghanistan' Syed Karim Hashemi. In this meeting, the representative of the General Union of Oil & Gas has thanked MoF for facilitating them in the customs system. Mr. Hashemi expressed his happiness that after this, the 'oil and gas related part' of ANSA (Afghan National Standard Authority) is functioning under the control of MoF, which will provide more facilities for the Oil & Gas Corporations in this regard. The Minister of Finance has said that all businessmen and officials of Oil & Gas Corporations in the country can share their problems and requests with MoF at any time, and MoF as always tries to provide them more facilities in the relevant arenas.




# لوېږ پوړۍ پلاوی ترکمنستان ته روان سو




د بيزنيس ريکارډر – BUSINESS RECORDER په نوم پاکستانۍ رسنۍ د پاکستان او ترکمنستان د دوه اړخيزي سوداګرۍ په باب يو راپور خپور کړی دئ، چي د راپور يوه برخه افغانستان هم دئ. د دې پلاوي موخه دا ده، چي د تاپي ـ TAPI نلليکي پروژې د بشپړتيا او دوه اړخيزي سوداګرۍ په اړه خبري وسي. په دې پروژه کي د نلليکي پروژې د نوم ابښودني له مخي ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان ګډون لري. راپور زياتوي، چي په پاکستان کي د ترکمنستان سفيرعطاءجان مولاموف له پاکستاني چارواکي رانا تنوير حسين سره په خپل تازه ملاقات کي ويلي دي، چي ترکمنستان د تاپي پروژې کارونه له خپل لوري بشپړ کړي دي او د ګېس/ګازو د سپارلو چاري ئې هم بشپړي کړي دي؛ خو اوس د افغانستان او پاکستان د پرمختګ په تمه دي. راپور دا خبره تائيدوي، چي وايي د تاپي د ګازو د نلليکي پروژه هم د اسلامي امارت له خوا منل سوې ده، چي د ترکمبنستان له پاره لوی او ستراتيژيک ارزښت لري او په سيمه کي د ګازو د نلليکي يو له لويو نوښتونو څخه شمېرل کېږي. په متن کي راغلي دي: «د دې پروژې هدف له ترکمنستان څخه د افغانستان له لاري پاکستان او هند ته د (۳۳) بيليونه/ ميليارډه ميتر مکعب طبيعي ګاز لېږد دئ.» د راپور د معلوماتو په اساس، چي وايي د نلليکي له (۱,٦۸۰) کېلوميتره اوږدوالي څخه، چي (۷۳۵) کېلوميتره ئې له افغانستان څخه تېرېږي؛ تمه ده د افغانستان له پاره به له (۲۰۰) ميليونه امريکايي ډالرو څخه ډېر کلني عايد توليد کړي او تقريباً د (۱۲,۰۰۰) په شمېر به د نويو دندو د ايجاد زمينه مساعده کړي.





**د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي**

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لاري شريک کړي.

ټيليفون او واټساپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ /۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af

د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چي خپلي مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري مونږ ته راواستوي.